سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۵/۰۲

# د خـــدای تحـفـه!

تعریف نشته دی د مینې
نه یی شکل شته نه بڼه
نه ځیره لری نه شی دی
او نه ورته ده کوم شی ته
پیداینت سره مو سمه
ژوندانه ته ده راغلې
له زانګو نه ده تر قبر
مینه مونږ سره ملګری.
د ډیوی غوندی بلیږی
کله تته شی اوکله
بیا روښانه شی خو نه مری
ځوک لیدلی نشی مینه
خو وی تل د سترګو وړاندی
اخستی درنه هرڅه شی
درکولی شی هم هرڅه
هم کیداشی چی تا مات کړی.

مینه ستا زړه کی دیره ده

مینه ستا مغز کی پرته ده

ستا د روح سره ملګری

ستا رګونو کی خوره ده

تبعیض نه پیژنی مینه

دا په سترګو هم ړنده ده

خو د دی نړی هرګوټ کی

د هوا غوندی چلیږی.

ژبه د مینی د نړی ژبه ده

او په پوستکی لمس کیدلی نشی

مونږ یو ټول احاطه کړی میني

په نامریی پوښ یی پوښلی یو ټول

لا څوانه نه ده لاوړه ده مینه

خوزوره وره ده له هر زورور

ځکه: د لوی الله ج تحفه ده مینه

چی یی ورکړی پیرزو کړی

هر ژوندی موجود ته.

اپریل/۱۵/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو؟ کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر  او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه  تر لاسه کړی!

د خدای تحفه

kliwal_s_de_khodaay_tohfa.pdf